د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه 21 شوال، ۱۴۴۵هـ | ۲۰24/۰4/30م | گڼه: ح.ت.افغ 19/۱۴۴۵

## مطبوعاتي اعلاميه

## روسيه هم د امريکا پشان استعمارگر او د اسلام او مسلمانانو تاريخي دښمن دی؛ له دغه هيواد سره د سياسي اړيکو پراخول د سختې اندېښنې وړ دي

د پوتين ځانګړي استازي، ضمير کابلوف افغانستان ته په خپل سفر کې د بهرنيو چارو له وزير سره وکتل. په دغې ليدنه کې د سرپرست حکومت د بهرنيو چارو وزير په سيمه‌ييزو او نړيوالو ناستو کې د روسيې د ملاتړې دريځ مننه وکړه او له روسيې سره يې د افغانستان د اړيکو د مهم ګڼلو ترڅنګ د دواړو هيوادونو ترمنځ د سياسي او سوداګريزو اړيکو پر پياوړتيا ټينګار وکړ. دغه راز په ياد سفر پورې اړوند د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال هم افغانستان ته سفر کړی او د دواړو هيوادونو ترمنځ يې د سوداګريزو اړيکو پر پياوړي کولو ټيګار کړی دی.

د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دغو سفرونو په اړه خپل سياسي موقف داسې بيانوي:

**لومړی:** موږ له روسيې او د هغې له لاسپوڅو لکه قزاقستان سره د اړيکو نږدې کېدل، چې د سوداګريزو اړيکو د پراخولو تر شعار لاندې د سياسي تعامل غوښتونکي دي، سخت د اندېښنې وړ بولو او اوسنيو حکامو ته د داسې اړيکو د دنيوي او اخروي عاقبت په اړه خبرداری ورکوو. په حقيقت کې روسيه له اسلام او مسلمانانو سره په دښمنۍ کې له امريکا، اروپا او چين سره توپير نه لري. نو د روسيې پر وړاندې بايد زموږ دريځ داسې وي چې روسيه يو استعمارګر هيواد او د اسلام او مسلمانانو تاريخي دښمن دی.

**دوهم:** موږ د مسلمانانو په توګه بايد په افغانستان، منځنۍ اسيا، قفقاز په ځانګړي ډول چچن او همداراز افريقا کې د روسيې وحشتناک او تاريخي جنايتونه هېر نه کړو. موږ د روسيې او جنايتکار پوتين لخوا په سوريه کې د مسلمانانو ټولوژنه هيڅکله نه شو هېرولی. مسلمانان په حقيقت کې واحد امت دی؛ جګړه او سوله يې واحده ده. نو پخپله د روسيې د مسلمانانو، د منځنۍ اسيا، چچن، سوريې او افريقا د مسلمانانو پر وړاندې د روسيې جنايتونه د افغانستان د مسلمان ولس پر وړاندې د هغوی د جنايتونو پشان ګڼل کېږي.

**درېيم:** د اوکراين-روسيې جګړې له پيل وروسته روسيه د غرب تر اقتصادي او سياسي بنديزونو لاندې ده. له افغانستان سره د روسيې او منځنۍ اسيا د هيوادونو تعامل د دغو بنديزونو له مخې لرې کولو او نوو ټرانزيټي او سوداګريزو مسيرونو پيدا کولو په موخه دی. په ورته وخت کې، روسيه په افغانستان کې د مجاهدينو او جهادي فکر له شتون څخه سخته اندېښمنه ده. ځکه خو يې سياسي ګټې ايجابوي چې د افغانستان له حکومت سره د نږدې تعامل سياست مخته يوسي. همدې روسيې په ۲۰۰۳ کال کې «د طالبانو خوځښت» د «ترهګرو ډلو» ليست ته زيات کړ. خو اوس يې چې ګټې بدلې شوې، په نوې څېره رامخته شوې. واقعيت دا دی چې د روسي سياستوالو زړونه له اسلام او مسلمانانو سره له دښمنۍ ډک دي.

موږ هغو کسانو ته چې پېښنو او د هيوادونو سياسي کړنو ته سطحي ګوري، وايو چې بايد ژور فکر وکړي او د استعمارګرو هيوادونو په خبرو، دريځونو او نرمو سياستونو ونه غولېږي. موږ پر خپلو مجاهدو وروڼو ټينګار کوو چې سياسي واقعيتونو او پېښنو ته د شته سياسي واقعيتونو او ملي ګټو له عينکو نه، بلکې د اسلامي عقيدې له عينکو وګوري. ځکه هغو کسانو ته چې د اسلام ادعا کوي، اجازه نشته چې سياسي پېښنو ته د اسلام له زاويې او نړۍ‌ليد پرته، له بلې زاويې او نړۍ‌ليده وګوري.

**يا أَيها الَّذينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا الْكافِرينَ أَوْلِياءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنينَ أَ تُريدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا لِلَّه عَلَيكُمْ سُلْطاناً مُبيناً** [نساء:144]

**ژباړه:** *«اې مومنانو! د مومنانو پر ځای کافران خپل دوستان او وليان مه نيسئ ايا تاسې غواړئ (په دغه کار) الله ته د ځان پر ضد څرګند دليل ورکړئ!؟»*

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايمېل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info